# د کره کولو لاري
## ټامس ګرې او آرنلډ

د تنقید فن او د کره کولو لاري د اوسني ادب یو مهم رکن ګڼل کیږي، په دې عصر کي لکه ادب چي لوړتیا موندلې ده، دغه فن هم هغوني پر مختګ کړی دی، اوسني لیکوال بویه چي د دې خواږه فن له نوو اصولو څخه خبر سي، په تېره بیا د پښتو په ادب کي هم باید دغه فن لار ومومي او د کابل مجله باید خپل ښاغلي لوستونکي د دې نوي فن سره پخپله ژبه آشنا کړي. زما په فکر خو د دې چاري لنډه او سمه لار هم دا ده چي د نوي دنیا د ځینو مشهورو نقادانو مضامین په پښتو ترجمه سي، چي ښاغلي لوستونکي د نوي تنقید لاري او چاري ځني زده کړي او زموږ په ادبي نهضت کي باید کورټ دا خبره هېره نه سي. د دې مهم مقصد له پاره زه د انګلستان د نامتو نقاد میتهو آرنلډ یو مضمون چي د انګرېزي ژبي پر یوه معروف شاعر ټامس ګرې یې کښلی دی، ترجمه کوم او مقصد مي دا دی چي دغسي مضامین نور پسي ډېر سي. په دې مضمون کي زه د دوکتور محی الدین زور د هندوستان مشهور نقاد له لیکونو څخه استفاده کوم.

لومړۍ خبري :

مسټر آرنلډ د انګلستان یو معروف او ډېر نومیالی نقاد دی، ده پر خورا مشهورو او نامدارو ادبي اتلانو او پهلوانانو باندي تنقیدونه کښلي دي، او د دې فن یو نامي سړی دی، په دې لاندي تنقید کي ده د ټامس اګري د اشعارو پر مقدار او نوعیت څه کښلي دي، مثلاً دی دا ښکاره کوي چي د ګري اشعار ډېر لږ دي، خو د څنګه والي لامله یې هم درجه کښته نه ده. آرنلډ کوښښ کوي چي د اشعارو د لږوالي علل او اسباب وښیي او د دغه مطلب له پاره د شاعر دا لاندیني شیان ترکره کتني لاندي نیسي :

۱.د شاعر د ژوندانه څنګه والی.
۲.د شاعر شاوخوا، او د هغو اغېزه د ده پر کلام.
۳.د شاعر کورنۍ لیکني.
٤.د شاعر د ملګرو او خپلوانو لیکونه چي ده ته یې کښلي دي.
٥.د شاعر د خپلوانو لیکونه چي په هغو کې د دغه ذکر کړی دی.
٦.د شاعر تر مړیني وروسته د ده د مخالفینو او موافقینو کورني لیکونه.
۷.د شاعر متفرق عمري سوانح او پر هغو باندي یو څو تنقیدي مضامین.

نقاد له دغو ټولو موادو څخه مهم مطالب څرګندوي د شاعر احوال او د کلام نوعیت یې ښه ښکاره کوي له نورو شاعرانو سره د ده کلام مقایسه کوي، ځیني اعتراضونه چي د ګرې پر کلام سوي دي رد یې کوي تر لومړنیو خبرو وروسته اصلي مضمون ترجمه وګورئ :

***

جیمس براون چي د کیمبرج د پمبروك هال د مسټر ګرې ملګری او وصي و د ګرې تر وفات دوې هفتې وروسته یې دکتور وارټن ته هسي په یوه مکتوب کي کښلي و :

د مسټر ګرې په کوټه کي اوس هر شی تور او غمجن ښکاري، د ده یوه نخښه هم نه ده پاته، داسي ښکاري چي په دې کوټه کي دا ډېر عمر څوك نه دي اوسېدلي او اوس یو اوسېدونکی غواړي، زما په زړه کي د ده آثار تل

پاتېدونکي دي او دا يو څو کاله چي د ژوند هيله لرم ډېري ګټي به ځني واخلم، ده کورټ ژبه نه وه خلاصه کړې مګر يو څو اشارې چي يې زما په ياد دي، دمخه يې خپله خاتمه تر نورور پخوا ژر او نژدې راښوولې وه. "ده کورټ ژبه نه وه خلاصه کړې" يو څو توري دي، چي د ګرې ټول عمري سوانح د يوه انسان او بيا شاعر په ډول پکښي پټ دي، او د ليکونکي له قلمه هم اتفاقاً دا وتلي دي، مګر زه دلته له دغو کلماتو څخه د شاعر په ژوندانه ځان خبروم.

که څه هم د مړيني پر وخت د شاعر عمر (۵۵) کاله و او ژوندون يې هم په راحت او آرامي تېر کړی و، مګر د ده ټول اشعار فقط څو مخه دي، ده په شاعري کي "کورټ ژبه نه وه خلاصه کړې" مګر شهرت يې تر دغو څو مخو اشعارو ډېر شاندار او لوړ و، دا رښتيا ده چي جانسون د ده ذکر په خورا ساړه ډول او بې توجهي سره کړی وي.

د ګرې له جانسونه داسي بد راتله چي د هغه له ليدني څخه يې انکار کړی و، د ځينو به دا خيال وي چي جانسون به د دغه شخصي مخالفت له لامله داسي ليکلي وي، مګر حقيقت دا دی چي جانسون فطرتاً دوني لياقت نه درلود چي د ګرې د شخصيت او شاعرۍ په خصوص کي دي څه وليکي، او دغه توجيه هم د جانسون د ساړه ليك له پاره کافي ده. هغه شاري شواړي خبري چي ده د ګرې په تنقيد کي کښلي دي د هغو په باب کي يوه بله توضيح هم سته، چي د مسګټر کول له ليکنو څخه لاس ته راځي.

کول هسي وايي :

"هغه وخت چي جانسون د ګرې سوانح او احوال خپراوه، نو ما ده ته څو يادداښته ورکړل مګر ده په ډېره چابکي يوازې د هغو خپلو ليکونو خپرونه او د خپلو زيارونو پای ته رسول غوښتل".

جانسون چي د ګرې احوال وکيښ، طبعاً د هغه خواخوږی نه و، او تر دغه زيات د سوانح عمري په ليکنه کي ډېر تلواري هم و، نو ده له ګرې سره بې انصافي وکړه، مګر دا بې انصافي پخپله د جانسون له حالاتو څخه ښکاره سوه او تل نه سوه پاته، بلکي ناکامه سوه. لاردمکالي وايي :

چي د جانسون په ليکنو کي بدترين ليك د ګرې سوانح دی، تر مکالي دمخه هم ډېرو نورو د جانسون پر دغه ليك سخت اعتراضونه کړي دي.

د جانسون د دغه بې انصافۍ سره هم د ګرې د شاعرۍ چرچه سوه او د ادبي شهرت انګازه يې هري خوا ته خپره سوه. ځکه چي تر جانسون دمخه نورو سوانح ليکونکو دی د پنډاد ساری ګڼلی و، ميان وايي :

"برطانيې وليدل ... د هومرا وردملټن په سازکي د پنډاد جوش د ګرې په نارو کي" پوپ (مشهور شاعر) د شاعرۍ خوږ طرز درلود، او عام مقبوليت يې هم موندلی و، نو ځکه په لومړي پلا د شعر او وينا کره کوونکو او ګوت منډونکو په ورين تندي د ګرې د شعر ښه راغلې ونکړه، ايليجي (د غريبانو هديره) نظم خو خلکو خوښ کړ، مګر ښېله دې يې بل څه نه وکړه او هم په متأخرينو شاعرانو کي د ګرې شاعرۍ خلك ډېر اريان کړل او داسي نامأنوسه او له مروجي شاعرۍ څخه ښېله او جلا وه چي خوښوونکي هم ورته هېښ سول.

مګر د ګرې تر مړيني وروسته د ده شعر د عوامو او خواصو په زړو کي ځای ونيو، لکه چي مټ فورډ د ګرې دوهم احوال ليکونکی يا ژوند ليکونکی هسي کاږی :

"د ګرې کارنامو ته يا متأخرين متوجه سوي نه وه يا دا چي مذاق يې بل ډول و، خو اوس ګرې او کالنز زموږ په عشقي شاعرانو کي خورا لوړه درجه لري".

په دې ډول د ګرې شهرت هر راز چي و، خورا قايم سو، که څه هم عام مقبوليت نه و ورسره خو ډېر اعلی کلام وګڼل سو او هم له دې سببه و چي د جانسون تحقير آميزه ليکونه د ګرې په باب کي خلکو خوښ نه کړل او دی يې سخت پر وګاڼه. د اتلسمي پېړۍ په پای کي بي ټي سروليم فاربس داسي وايي : "د اوسنۍ زماني په

شاعرانو کي تر ټولو د درناوۍ وړ سړی ګرې دی او دا زما هم انصاف دی".
کوپر ليکي : "زه چي د ګرې وينا لولم، داسي راته ښکاري چي دی تر شکسپير وروسته لومړنی شاعر دی چي عظيم الشان ورته ويلای سو، ښايي چي ستا به دا هم په ياد وي چي دمخه د ده په خصوص کي ما بله رأيه درلوده، مګر هلته زه متعصب وم".
آدم سمته ليکي :
"ګرې د ملټن عظمت او د پوپ نزاکت او رواني لري، د ده له پاره کم مانع نست چي د انګريزي ژبي تر ټولو لوړ شاعر دي وګڼل سي، مګر دا خبره چي ده يو بل څه ليکل ...".
جيمس ميکن ټاش په اوس وخت کي د ګرې له پاره دا عقيده لري : "په شعري اسلوب کي چي څه ځايېږي ده د شان او شوکت لوړي درجې ته ورسول".
ښه اوس چي مو د ګرې د کلام په باب کي د پوهانو عقايد واورېدل، نو د وينا د لړتوب له لامله يې د شعر له دغي لوړي درجې څخه کښته را اچولای سو؟ آيا دا ويلای سو چي په شاعر کي د عمر قوت او د قريحې جودت لږ و، چي اشعار يې هم لږ دي؟ ايليچې چي د ده يو نظم و هغه هم د موضوع د خوږوالي له لامله خوښ کړ سو، نو آيا يوازي دغه واقعه د ګرې د شهرت سبب سوه او په حقيقت کي مستحق نه و؟
پخپله ګرې خو د خپل شعر ايليچې د شهرت په سبب نه تېر ووت، او دوکتور ګرې هسي ليکي : "چي ده ما ته په شدت سره وويل د ايليچې شهرت فقط د موضوع له لامله دی. که دغه موضوع په نثر کښلې سوې وای هم به عوامو خوښه کړې وای ! مګر په دې خبره هم څه مبالغه ګڼه ده، ولي چي ايليچې يو ښکلی شعر دی او په تعريف کولو کي عوامو د شاعرۍ حقيقي ذوق ښکاره کړی دی، خو دا هم ليري نه ده چي د دغه شعر د شهرت لوی عامل د هغه موضوع هم ده، چي يو غير محدود مقبوليت يې موندلی دی.
مقصد دا دی چي پخپله ګرې ويلي وه چي ايليچې زما د شعر بهترينه نمونه، نه ده، او دا رښتيا هم ده.
مګر دغه شعر د اعلي تعريف وړ هم دی. وايي چي د ګرې د شاعرۍ قوتونه نسبت ايليچې ته د ده په نورو آثارو کي ښه ښکاره دي نو له دې جهته دی د يوه شاعر په ډول د ډېر شهرت وړ دی. نو اوس موږ بيرته هغي خپلې مخنۍ پوښتني ته ځو چي د يوه مشهور او مستحق شاعر د اشعارو لږوالی څنګه دی؟
د ګرې ليکني خورا لږ دي، اما په اطرافو کي معلومات کول، او پخپله د شاعر ويناوي بيانول دلچسپي لري، د ګرې خپل خطونه او هم د ده په باب کي د ملګرو ليکونه د ده د روح او زړه اعلی صفتونه موږ ته راښکاره کوي او ښايي چي دغه شيان هم لومړي د ده پخپل شخصيت کي وپلټو او بيا بويه چي په دې خبره کي غور وکړو، چي دغه صفات د ده په شاعرۍ کي څنګه موجود دي؟ ولي په ډېره آزادي د ده په شعر کي څه نه دي ننوتلي؟
لومړی به د ده تحصيلات وګورو، مسټر ټيمپل چي دوست يې و وايي :
"ګرې په اروپا کي غالباً تر ټولو زيات عالم سړی و، د تاريخ په هره څانګه کي طبيعي ده که سياسي پوهېدی، د انګلستان، فرانس، ايټاليا ټول اصلي تواريخ يې لوستي وو د سلفيانو يو زبردست ماهر و، د ده د معلوماتو لويه برخه هم د مابعد الطبيعيات او اخلاقياتو او سياست له تنقيده څخه وه، بري او بحري سفرونه يې خوښ وو، له نقاشۍ، مصورۍ، ودانۍ جوړلو او باغوانۍ سره يې ډېر شوق و، د نيچرل ساينس (طبيعي پوهنو) خصوصاً حياتيات او حيوانيات او حشراتو (Entomology) سره يې مينه درلوده، د خزدکو د پوهانو دا عقيده ده چي د انګلستان د خوځندو په خصوص کي هغه وخت تر ګرې چا ښه معلومات نه درلودل. د ده ځيني يادداښتونه چي خپاره سول، او ځيني لا نه دي طبع سوي دا ښکاره کوي، چي د ګرې زاړه ادبي اطلاعات خو څه کوې، د ده تحقيقات د جغرافيا په ترميم topography او نقاشۍ او د ودانۍ په فن او سلفياتو او حماسياتو کي ډېر لوړ وه او هم خورا ښه د موسيقۍ پوه و".

تر دې زيات جيمس ميکن ټاش وايي چې :
"د ګرې دغه ټول تحصيلات او پوهني خو وې مګر دی په انګلستان کي لومړی سړی دی، چي د طبيعت ښېګني يې ښکاره کړې، ډېر د لطف ډك سفرونه يې پکښي وکړل، او حدود يې ورته مقرر کړل".
د لوستونکو او زده کړنو قدر او قيمت هم د هر چا په انفرادي قوت او استعداد اړه لري، نو اوس دلته دا خبره څېړو، کوم تحصيلات او لوستني چې ګرې کړي وې آيا ده څنګه پر هغو باندي د خپل شخصي استعداد اغېزي واچولې؟ د ده خبري څېړنه به د ګرې شخصي وړتوب ښه راوښيي.
په لاندي کرښو کي به پر درو نامتو خلکو باندي د ګرې تنقيدي کتني وګورو. دا تنقيدونه ده ځيني دوستانو ته په شخصي ليکو کي ښېله غوره سرسره کښلي دي، مثلاً لومړی د ارسطو په باب کي وايي :
"لومړۍ خبره دا ده تر اوسه چي ما هر څوني مصنفين پېژندلي دي، په دغو ټولو کي د ارسطو ليك خورا مشکل او ګران دی، بله دا چي داسي و چي کلکه لنډوونه ده، چي لوستونکي داسي خيال کوي لکه د کتاب پر ځای چي يو فهرست لولي، دی ټوله دنيا ژوولي سوي واښه يا ژوولي منطق ګڼي، ولي چي د ده له منطقه سره خاصه مينه ده او دغه فن يې يو راز ايجاد کړی هم دی. نو ډېر ځله دی په کوچنوټو کوچنوټو خبرو او لفظي اختلافاتو کي ځان اچوي، او بيا د وتو کوښښ کوي او هم لکه ټولو لنډوونکيو ليکوالو ته چي لازمه ده له ډېري لنډووني څخه نقصان مومي".
ګرې د کرټيس په خصوص کي داسي وايي :
"چي د ده په انشاء کي د نورو پخوانو ادباوو باقيات صالحات سته او د يوناني ژبي له نورو ادبي آثارو څخه کم امتياز او ښېګڼه نه لري، او هم يې خبري يو له بله نه سره لګېږي او ښکاره اختلاف پکښي څرګند دی".
د فرواسارټ په باب کي وايي :
"چي دی د يوې وحشي زمانې هيروډوټس دی، که د ده په ښه ژبه ليکنه زده وای نو به يې آثار نه ورکېدونکي وو، د ده ذاتي زيار او پلټنه او ساده څېړني د پخوانو يونانيانو په ډول وې".
دا وې د ګرې يو څو تنقيدي رأيي چي د څو تنو په نسبت يې کښلي دي، له دغو څخه د ده دماغي اعلی معلومات او هم له هغو څخه د نتيجو اخيستني قوت ښه څرګندېږي مګر ګرې يو شاعر و، بايد موږ د ده هغه تنقيدي کتني ولولو چي د شعر په نسبت يې ليکلي دي، د ده يو دوست چي ويسټ نومېده د فرانسوي شاعر راسين د ژبي په خصوص ورته کښلي وه،چي د هغه د شعر ژبه د خپلي زمانې تر ژبي خالصه او سوچه وه. نو زه نه سوای ويلای چي زموږ ژبه (انګرېزي) بايد څه اسلوب ولري؟ د دې خبري په ځواب کي ګرې هسي وايي :
"د وينا د اسلوب له لامله زه دوني ويلای سم چي د عصر ژبه کورټ د شاعرۍ ژبه کېدلای نه سي، مګر فرانسوي ښېله ده ځکه ددې ژبي نظم که د خيال کومك نه وي ورسره له نثره يې هيڅ فرق نه کيږي. برعکس موږ د شعر له پاره يوه مخصوصه ژبه لرو، هر چا چي څه ليکلي دي يو څه يې هرومرو پکښي زيات کړي دي، د شکسپير ژبه هم داسي ښېګڼي لري. د ده ډېر تعابير داسي دي چي بل څوك يې نه وايي، نه يې ليکي او نه يې په بل ډول ترجمه کېدای سي".
په دې ډول ګرې د شاعرۍ په خصوص کي پاخه عقايد لري، او د ده په عصر کي چا په انګلستان کي دغسي ادبي رأيي نه دي ښکاره کړي. او نه يې هسي غاير نظر درلود، له دغو ډېرو ژورو افکارو څخه موږ د ګرې د دماغي صفاتو اندازه کولای سو او چي دغه مو معلوم کړل، بايد د ده قلبي صفات هم لږ څه معاينه کړو. ظاهراً داسي ښکاري چي ګرې يو نازکدانه او نری مزاج او ښځي وشمه سړی و، مګر دا چي د پمبروك هال يوه استاد د ده د کوټې له کتلو څخه پسله مرګه ګټه اخيسته، هسي ثابتوي چي د نارينه مزاج يې درلود، تکلسن هم د ده په باب کي ليکي چي :

"دی تر دنیا تېر سو نو زه یوازي پاته سوم او نیم وجود مي بایلو، ټولي خوښۍ مي په ده پوري تړلي وې ...".

له دې شهادتو څخه ښکاري چي ګرې ښه عواطف او قلبي صفات درلودل، متأنت یې له هغو خطو څخه ښه څرګندېږي چي ده د میسن د پلار تر مرګ وروسته ورته کښلي دي، ځکه په دغو لیکونو کي دی په سړه سینه د متأنت او ثبات درس ورکوي، او له هري کلمې څخه یې اخلاقي متأنت څرګندېږي.

ګرې د ښو افکارو سره کړنه او کردار هم درلود، د والټیر ادبي قوت یې خوښ و، مګر د هغه له علمي غلطیو څخه یې ډېر بد راتله ، په (۱۷۷۱ع) چي د ده دوست نکلسن په سفر تی ګرې ورته وویل : چي زه ستا څخه یو خواهش لرم هغه هم دا دی چي والټیر ونه وینې.ځکه سړی په هغه شرارت نه پوهېږي چي یو انسان یې لري ! ده د ډریډن ډېر احترام درلود، او د شاعر په حیث یې خورا مانه، پخپله یې ویل چي زما په اشعاروکي چي څه ښېګڼي سته ټولي مي له ډریډن څخه زده کړي دي، مګر سره د دې یو خپل دوست ته هسي لیکي : چي ډریډن فقط شاعر وګڼه. له نورو اعمالو څخه یې سترګي پټي کړه، بل ځای په دې خبره کي چي ډریډن ملك الشعراء (پوئټ لاریټ شب) سي که یه داسي وایي :

ډریډن د خپل عمل له لاسه دې مرتبې ته داسي ناوړه دی لکه یو معمولي شاعر چي د خپلو اشعارو له لامله ناوړه وي. له دې ټولو څخه د ګرې کرداري خوا ښه ښکاري او دا را څرګندېږي چي د ګرې په نظر د هر انسان کرداري ژورتوب او تول د ده د لوړتیا او اجتماعي اهمیت سته ده، د هیوم په خصوص کي هسي لیکي :

چي دی داسي خندېدونی او ورین تندی او خوش مزاجه سړی و چي باید د عمر تر پایه دی هلك پاته وای او دغه یلك او لوست چا جبراً په زده کړی وای.

په دې ډول ګرې بشپړ سنجیده اوکاغ او دروند سړی و، مګر ده همدردانه جذبات په داسي ډول درلودل، چي سړی یې د لوبو سره ګډ ظرافت او ټوکي توب بللای سي، یو د مني ماښام و، د (کسوك) د ولې پر غاړه ناست و، نو یې د ریویزیا ابرمن یاورډسوورته په ډول هسي شعر ووایه :

"لمر چي ولوېده نو ماښام سو، او د غرو پر ککریو د وړانګو وروستنۍ رڼا وځلېده، په اوبوکي سړه سنا وه، اوږدې اوږدې څپې یې تر مخامخ څنډو پوري رارسېدې، او د لمر د وړانګو شغلې پکښې ځلېدې ما د آبشار هغه ږغ اروېده چي له لیري نه اروېدل کېږي زړه مي غوښته چي سپوږمۍ هم ووینم، خو هغه تیاره او پټه خوله وه او پخپله تشه قمري سوړه کي راڅخه ننوتلې وه ...".

د ده په خطوکي هم د ظرافت نخښي ښکاري، هوریس والپول به ویل چي : (ګرې خورا اسانه ظریفانه لیك لري، او ذوق یې فطرتاً ظرافت ته ور څرمه دی). نو یو شاعر ته چي علم، فکر، متأنت، جذبه، ظرافت، تول لازم دي ګرې هم داګرده درلودل، خو ژر یې د ناروغتیا له لامله طبیعت وران سو، او ناوړه نخښي پکښي څرګندي سوې، په (۱۷۳۷ع) دی پخپله لیکي : "پیزي او زمول جذبات زما وفادار ملګري دي دوی زما سره بیدیږي او زما سره ویښیږي، زما سره په سفر ځي او بیرته راسره راځي، یوازي دا نه کوي، بلکي دوی ما خوښوي، خندوی مي غوړوي مي ! خو تل سره یوازي یو او په دنیا کي تر موږ سره خواږه اما خورا لټ ملګري نور نسته ...".

د ګرې سره ظرافت له ابتداء څخه ملګری و، دی لا د (۳۱) کالو نه و چي هسي یې لیکل :

"ته باید وپوهېږې چي ما ته یو داسي سپین لېونتوب (مالیخولیای ابیض) راپېښ دی چي ډېر لږ ناځي او ډېر لږ خاندي خو بیا هم دغه یو ډېر ښه حال دی" وروسته هسي لیکي :

"د دې سره یو بل راز مالیخولیای اسود هم سته چي له هري هیلي او هر خوش آیند شي څخه سترګي پټوي ! خدای دي له دغه څخه نجات راکړي، ځکه چي تر دغه نو بل تود موسم په دنیا کي نسته ...".

د ګرې ظرافت او غوړېدلي طبع د عمر تېرېدلو ور زمولولوله، ده به اکثر د نشاط راوستلو او د قواوو د

تحريك له پاره سفرونه کړل مگر دې زمولتوب او پيزي والي دی نه پرېښود په دغو وختو کي ډارتن ته ليکي :
"زه بايد سفر وکړم يا مړ سم". تر دغه درې مياشتي وروسته دی مړ سو.
په دې ډول ګرې د شعر له پاره يو ښه او وړ طبيعت درلود، پوهنه او فضيلت يې کافي و، مګر د ژوندانه مراحل يې هسي ربړوونکي وو چي د ده شعر يې په داسي ډول ور لړ کړ چي د پمبروك هال استاد به ويل چي (ده کورټ ژبه نه ده خلاصه کړې) مګر په دې هم پوهېده چي پر ګرې ژوندون څنګه تېر سوی دی؟
ګرې پخپله هم مليسن ته هسي ليکي چي :
"زما بهترين قوت هم هسي بې سپکه دی چي د کاله تر درو ورځو زيات نه سي ويښېدلای".
هوريس والپول ته ليکي : "ته راته وايي چي زه بايد ډېر څه وليکم، زه په خورا خلوص هسي درته وايم : تر هغه وخته چي زه وکړای سم، ليکم به يې، مګر که داسي پېښه سي چي زه څه ونه ليکم ته وپوهېږه چي ليکلای يې نه سم ...". په دې ډول ګرې خپل نفسي کيف پخپله په خورا وضاحت څرګندوي او دا د صداقته ډکه لهجه د ده د بيان يو خاص ډول دی. بونستيټون Bonstetuon د سويټزرلينډ يو مضطرب ليکوال چي د ګرې سره په کيمبرج کي څه وخت يو ځای و، او د ده د ژوندانه په باب کي وروسته خپل ليکونه خپاره کړل هسي ليکي :
"د ګرې ژوندون ما ته يو نغښتی او مهر سوی کتاب دی، ده کورټ د ځان له لامله زما سره خبري نه کولې، او نه ما ته اجازه وه چي د ده د شعر په باب کي ورسره وږغيږم که به ما څه د ده په شعر کي ورته وويل، لکه هلك پټه خوله به راته ناست و، کله به ما ورته وويل چي ته هم يو څه ووايه مګر د ده له شونډو څخه خبر نه راوته".
دا ليکوال عقيده لري چي ګرې په ژوندانه کي هيڅ ډاډ نه درلود، نو له دې لامله يې ژوندون تريخ او زهر آلود و ځکه يې مينه هم نه درلوده او د کيمبرج په غلې فضا کي لکه د کتابو او ... پټ او غلی شوی و. مګر سينټ بيو چي ډېر د ګرې تر اغېز لاندی راغلی دی او هم ډېر پر ګران و د بونستيټون خبره نه مني او د ګرې د قنوط او نااميدئ علت د ده خپل شاعرانه قابليت ګڼي، ځکه د ممتازتوب او فوق العاده والي سره هم ډېر د شعر پيدا کوونکی او شعر زېږوونکی نه و.
ځيني خلك د ګرې د لږ شعر درلودلو او انزوا علت د ده موروثي ناروغی نقرس ګڼي، مګر که په غور وګورو دا هم اصلي علت نه دی، ځکه ګوئيټي وايي : "چي شيلر ټول عمر ناروغه و مګر هغوني هم ډېر ويونکی شاعر و" نو د شعر په لږوالي يا ډېروالي کي د شاعرانو ناروغي خورا لږ دخالت لري، پوپ پخپله خپل ژوندون يوه اوږده ناروغي ګڼي، مګر سره د دغه هم د ګرې په عصر او زمانه کي د ده ادبي فعاليت خورا ډېر و نو د ګرې د خاموشئ اصلي علت پلټل هم ګران کار دی، مګر دلته يې زه در ښيم : ګرې له موره شاعر پيدا سوی و، مګر د نثر په زمانه کي يعني د ده په عصر کي د انسان د زړه او روح د ژورو قوتو پر ځای د انسان ذهانت او فهم او فراست مقصد و او د ادبي پيداوار په لحاظ اتلسم قرن په انګلستان کي د دنيا د شاعرئ سره سيالي نه ده کړې، دې پېړئ يو ساده، آسان، صاف او سپېڅلی نثر پيدا کړی دی او خلکو هم د دغه ضرورت له لامله دماغي او استدلالي خوا ته ميل درلود د صداقت او جمال او حسن ترجماني يې نه کوله يعني شعر يې نه وايه. نو ګرې چي د شاعرئ بشپړ زړه او دماغ درلود پخپل عصر کي يوازي پاته سو د لوړو مطالعو سره هم ده خپل افکار نه ښکاره کړل او نه يې خوند ځني واخيست. د ده د قريحې د ځلولو له پاره يو غوړېدلی چاپېر او د معاصرينو همدردي او خواخوږي ضروري وه خو دغه دواړه نه وه، که ګرې په هغه کال پيدا سوی وای چي ملټون زېږېدلی وکه په هغه کال زېږېدلی وای چي برنس Burns پيدا سوی و نو به دی بل راز سړی وای هغه سړی چي په (١٦٠٨ ع) زېږېدلی وي، نو به د ايلزبت د عصر له ادبي ارتو ميلاناتو څخه پوره متأثر سوی وي، مګر که په (١٧٥٩ ع) زوکړی وي، دا سړی به هم د اروپا له هغه انساني ذهنيت څخه متأثر سوی وي، چي پای يې د فرانسې انقلاب سو، خو ګرې داسي نه و.
هغه وخت چي د فرانس انقلاب شروع کېده، که رنس غوندي ګرې هم د شلو کالو وای، ښايي چي د ده

په شعر کي يو ارتوالی او شګفتګي هم ښکاره سوې وای. نو ګرې د خپلو ټولو استعدادونو سره بې وخته دنيا ته راغلی و.

د ګرې يو بل معاصر پټلر هم په دغه بلا اخته و، ده ته فطرت ښه عطايا ورکړي وو، مګر داسي چاپېر او هسي زمينه کي ښکاره سول چي د ګرې غوندي په ناکامي او ناډاډينه اخته سو، په دغه وخت کي يوه داسي هوا رااالوتله چي نه ګرې او نه پټلر په وغوړېدل نو ځکه دوی دواړو ژبه نه وچلوله. د ګرې شعر ته د مقدار له پلوه نه، بلکي د نوعيت له لامله هم خپل عصر تاوان ورساوه، دی د ډرېډن د شعر تر اغېزې لاندی دی د پوپ د شاعرانه ږغ ازانګې يې په غوږ کي دي، د دې عصر له لفظي ارتوالي څخه يې استفادې کړي دي، مګر له غلطيو او اومتياوو څخه يې هم فارغ نه دی. که موږ منصفانه تنقيد وکړو نو به دا ووايو : چي د ډرېډن او پوپ د شعر او د حقيقي شعر تر منځ داسي فرق دی چي دوی خپل اشعار په خپل ذهن کي سره جوړ کړي وه، اما حقيقي شعر د زړه يا روح څخه راوزي، او دا دوه قسمه شاعري ډېر توپير هم سره لري، د ژبي اسلوب يې سره بېل دی، ارتقايي پيرايه يې ښېله ده الوکه ورډسورته چي ويلي دي : "دوی موضوع ښکلوله، نه شاعري" د الفاظو انتخاب او پرتم ډېر وو د فصاحت لحاظ يې کاوه، او واکي يې د دوو چالاکو شاعرانو ډرېډن او پوپ په لاس کي وې مګر دوی د شيانو برسېرن مخ کوت، ژور نه تلل نه يې معنوي جمال ليده، بالعکس د حقيقي شاعرانو ژبه داسي ده چي موضوع يې هم په نظر کي وي او شعر هم وايي ارتقاء يې د شاعر د زړه د محتوياتو ارتقاء ده او دغه هم ضرور او فطرتاً ښکاره کېدونکي دي، مګر د شعر دا مرتبه د ايمرسون په قول هغه چا ته رسېږې چي د ژوندانه په خورا ژورو تلو کي ژوندو کوي : "مګر د ګرې عصر آيا دی داسي ډول شاعر کړی دی؟ يه، دی د اتلسم قرن شاعر و". ګولډ اسمت د ګرې پر ځينو دغو عصري نواقصو باندي تنقيد کوي، مګر تاسي پخپله د ګولډ سمت دا مصراع وګورئ : "په توپان کي مسرت خيز ږغونه څپې وهونکي دي" په دغه کي زموږ د نثري پېړۍ د الفاظو شاعرانه انتخاب سته، بليغ دی پرتکلف دی، مګر له شاعرانه پلوه بالکل باطل دی. بيا چي مو دغه وويله نو د حقيق شعر يوه مصراع وګورئ، شکسپير وايي :"د وحشي او مغرورو څپو په ګهواره کي". په دې ډول د اتلسمي پېړۍ شعر ډېر نواقص درلودل د الفاظو د انتخاب او حقيقي ارتقاء له لامله د عصر د رنګ د ګرې په شاعري کي هم ښه ښکاره دی، مګر سره د دغه هم ګرې د خپل عصر ادبي اتل و، او په غوره والي کې هم خبره نسته. دی پخپله وايي :

"چي زما اسلوب ډېر مختصر دی خو د ترنمه ډك او آسان هم دی".

موږ به د ګرې د انګليسي شاعرۍ د خورا لوړو اتلانو سره نه پرتله کوو، بلکي د خپلو معاصرينو په ډله کي د ګرې کلام لوړه درجه لري، دی يو نظم لري د شعر لوړتيا Progress of Poetry او د ده لوړه ادبي کارنامه ده، په دغه جدي منظومه کي هم تر خپل عمومي اسلوب سپك او ناڅفه څه نه دي ويلي[1].

[1] کابل مجله. ۱۳۲۳ ش کال، لومړي او دوهمه ګڼه.